مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۱۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(دریمه برخه)

**عبدالعزیز لندني** : وګورئ : لندني

## ملا عبدالباقي

په ۱۸۹۵ز کال کې د کابل د کوهدامن په فرزې کې زېږېدلی دئ. ددهٔ ماما چې یو ختګر یا ګلکار وو دی ئـې د زوی په توګه وروزهٔ او پالنه ئـې وکړه. د ملا لعل محمد تر لاس لاندې ئـې زده کړې وکړې ملا لعل محمد د کابل د ګودرې د جامع جومات ملا امام وو. د سراجیه دارالمعلمینو ته واستول سو ډا دارالمعلمین د سردار عنایت الله خان له پلوه جوړ سوی وو، او په ۱۹۱۸ زکال کې ئـې خپل ډیپلوم تر لاسه کړ. د کابل په لومړنیو ښوونځیو کې ښوونکی. په ۱۹۲۰ز کال کې د امانیه او وروسته د ښوونځي ښوونکی سو. په ۱۹۲۵ز کال کې د ستالف د ښوونځی لومړنی سرښوونکی/ سرمعلم سو. یو ځل بیا د استقلال د لیسي ښوونکی. د ملک الشعرا قاري عبدالله تر لارښووني لاندې ئـې پارسي ادبیات په خصوصي توګه ولوستل. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د ملالی د نجونو د ښوونځي مرستیال معاون. د ۱۹۵۰ز کال د سپتمبر په میاشت کې په کابل کې وفات سو. د روان فرهادي پلار.

## مولوي عبدالبصیر

په ۱۹۱۲ز کال کې د ننګرهار په چپرهار کې زېږېدلی دئ. د کابل ,د قره باغ» د داؤود زیو له قبیلې څخه دئ. د هندوستان د شمس العلوم په مدرسه کې ئـې اسلامیات او شرعیات لوستي دي. په ۱۹۴۲ز کال کې ئـې په قضائیه قوه کې کار پیل کړ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ستري محکمې قاضي. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ستري محکمې د تمیز رئیس. په ۱۹۷۸ز کال کې له کاره وشړل سو. د خپل عصر یو له لویو علماوو څخه وو. د شاه محمود پرمهال دهٔ او نورو علماوو د «قربانِ اسلام» په نوم د یوهٔ ګوند بنسټ کښېښود او وروسته له دې چې ددوی ګوند ممنوع سو بیا هم دی فعال پاتې سو. مورنی ژبه ئـې پښتو ده. په ۱۹۷۹ز کال کې له اوږدې ناورغې وروسته وفات سو.

## جنرال عبدالغفار

ډ غوایي له پاڅون وروسته مرستیال ستر درستیز. د سویلي زون مشر.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

## عبدالغفور

د عبدالله زوی، په ۱۹۰۰ز کال کي د قطغن د اندراب په بنو کي زېږېدلی دئ. په خپل کلي کي د لومړنيو زده کړو له بشپړولو وروسته کابل ته راغی او له حربي پوهنتون څخه فارغ سو. خپل دنده ئـي د تورن په رتبي په وسله وال ځواک کي پيل کړه. په ۱۹۲۴ز کال کي ئـي د جګړن رتبي ته ارتقاء وکړه او هرات ته واستول سو. دی د افغانستان د وسله وال ځواک له لومړنيو افسرانو څخه وو چي په ۱۹۲۷ز کال کي شوروي اتحاد ته د لوړو پوځي زده کړو لپاره واستول سو. د مسکو د «فرونز» [1] له پوځي اکاډيمی څخه د مډال په اخيستلو فارغ سو. د څو مياشتو لپاره د کيف زندان ته په دې تور واستول سو چي يو شمير روسان ئـي مسلمانان کړي ول. کله چي په ۱۹۲۸ز کال کي امير امان الله خان له شوروي اتحاد سره ليدنه کوله عبدالغفور د ولاديمير ايليچ لينين او امان الله خان تر منځ د ليدني پر مهال ژباړن وو. د ۱۹۲۸ز کال په پای کي افغانستان ته راستون سو او ددفاع په وزارت کي ئـي خدمت پيل کړ. په ۱۹۳۴ز کال کي هندوستان ته د يوۀ افغان پلاوي په مشرۍ لاړ. وروسته له دې چي نادرشاه د سلطنت پر تخت جلوس وکړ عبدالغفور د مزار او ميمني په ګارنيزيونونو کي د بولندوی دنده تر سره کړه. په ۱۹۳۳ز کال کي ستر درستيز. په ۱۹۴۰ز کال کي د ظاهر شاه ياور. په ۱۹۵۷ز کال کي د صدراعظم محمد داؤود له لوري له وخت مخکي تقاعد کولو ته اړ سو. خپل پاتي نور ژوند ئـي د خپلو ځمکو کرکيلي ته وقف کړ. د تأريخي، ديني او سياسي مسائلو په هکله ئـي بې شمېره مقالي وليکلي. د سردار عالي لقب او نور مډالونه ئـي ګټلي دي. د غوايي له کودتا وروسته وفات سو. د عبدالغفور مېرمن، له خپلو درې زامنو او درې لوڼوسره د امريکا په متحده اياالاتو کي د مهاجرو په توګه ژوند کوي.

## عبدالغني احمدزی : وګورئ : احمد زی

## ملا عبدالغني

سليمان خيل غلزی دئ چي په ۱۹۰۰ز کال کي زېږېدلی دئ. د مجدديانو د تولني يو مهم پيرو دئ. په ۱۹۲۳ز کال کي ئـي د امير امان الله خان پر ضد د ړګوړ ملا» ملا عبدالله احمدزي ملاتړ وکړ. په ۱۹۲۴ز کال کي په داسي حال کي چي د اعدام حکم ئـي صادر سوی وو، وتوانيد له اعدام کېدلو څخه وتښتي. له ۱۹۳۰ز کال وروسته د صدراعظم هاشم خان او مجدديانو له ملاتړ څخه برخمن وو. د خپل زوی نوم ئـي غلام مجدد ږد مجدد مريبی» کښېښود خو زوی ئـي خپل نوم سليمان لايق ته بدل کړ. په ۱۹۸۲ز کال کي لا تر اوسه په کابل کي ژوند کوي.

## عبدالغني قلعه بيګي

د شاغاسي ږايشک اقاسي» نيک محمد زوی دی، ګرديزی دئ. په ۱۹۴۰ز لسيزې کي قلعـه بيګي يا د مانی مشر او جنرال وو. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د کندهار والي. د دۀ لور جميله پلوشه د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميتي علی البدله غړې ده.

---

[1] -Frunze Military Academy


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

## عبدالغیاث

د عبدالمجید زوی، په ۱۸۸۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د کابل په مدرسه کې ئې زده کړې کړي دي. په ۱۹۱۹ز کال کې د هرات دوالي سکرتر. په ۱۹۲۲ز کال کې د اعلیحضرت امان الله خان د دربار سکرتر. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۴۴ز کال پورې د صدراعظم هاشم خان سکرتر. ددري ژبې لیکوال او په پارسي ادبیاتو او صوفیزم کې یو ښه خبیر سړی وو.

## عبدالهادي داوي : وګورئ : عبدالهادي داوي

## عبدالحی حقجو

د بغلان په نهرین کې زېږېدلی دئ. لومړني او منځني ښوونځي ئې په بغلان کې لوستي دي ورپسې د کابل د صنعتي هنرونو (صنایعو – ژ) په لیسې کې شامل سوی دئ. په ۱۹۶۹ز کال کې له اسلامي غورځنګ سره یو ځای سو، په ۱۹۷۴ز کال کې پاکستان ته لاړ چې د داؤود د حکومت پر ضد جګړه وکړي. په ۱۹۷۸ز کال کې په خوست و فرنګ کې ښوونکی. د نهرین په جګړې کې ئې له مجاهدینو سره مرسته وکړه. په بغلان کې د مجاهدینو بولندوی او د افغانستان د اسلامي جمعیت د ګوند غړی.

## عبدالحکیم

د محمد کریم زوی، په ۱۹۲۵ز کال کې په خلم کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کې ئې د ښوونکو د روزني له اکاډیمۍ څخه لیسانس تر لاسه کړ. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې لیسانس د امریکا د متحده ایالاتو د «وایومینګ» [2] له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۶ز کال کې ئې خپله ماستري د تکزاس له اې . ام. څخه د کرنې په ښوونې او روزنې کې تر لاسه کړه.[3] په ۱۹۵۳ز کال کې د ښوونکو د روزنې په اکاډیمۍ (دارالعملین – ژ) کې استاد او په ۱۹۵۴ز کال کې د

---

[2] -University of Wyoming

[3] - ما د مرحوم عبدالحکیم له زوی ښاغلي فهیم حکیم سره خبرې وکړې، دی وایي چې ښاغلي عبدالحکیم د کرنې په اقتصاد کې ماستري تر لاسه کړې ده. همدا شان ښاغلي فهیم حکیم ما ته په دري ژبې یوه شرحه رالېږلې ده چې دلته ئې لله زیادښت او کمښت پرته کاپي کوم :
معلومات در مورد پدر مرحومم، عبدالحکیم:
۱- در قسمت مسوولیت شان در معارف روی داشته های که شما دارید تکیه می کنیم. کدام معلومات خاص نزد ما نبود. اما از مسوولیت شان در دارالمعلمین از خود شان شنیده بودیم.
۲- سال تولد شان ۱۳۰۵ هجری شمسی مطابق به ۱۹۲۶ میلادی
۳- معلومات وادی ننگرهار و کابینه نوراحمد اعتمادی دقیق است. در سال ۱۳۵۰ هـ. ش مطابق ۱۳۷۱ میلادی در کابینه داکتر ظاهر هم به صفت وزیر زراعت و آبیاری وظیفه داشت.
۴- از سال ۱۳۵۴-۱۳۵۲ هـ. ش مطابق ۱۹۷۵-۱۹۷۳ به صفت والی کنر و رئیس پروژه انکشافی کنرها توظیف بود.
۵- از اواسط سال ۱۳۵۵ الی ۷ ثور ۱۳۵۷ هـ. ش مطابق ۱۹۷۶ - ۱۹۷۸ به صفت والی کابل مقرر شده بود.
۶- مشاوریت و معیینیت شان در وزارت زراعت مطابق معلومات شما درست است.
۷- در سال های تقاعد حدوداً سال ۱۳۶۶ با پوهاند اصغر و محترم حکیم کتوازی و سایر خبره گان انجمن رستگاری ملی را ایجاد کردند و بیشتر در مورد مصالحه و آشتی ملی طرح های را ارائـه می نمودند (معلومات اضافی).
۸- با یگانه دختر استاد بیتاب، حمیده بیتاب، در سال ۱۳۳۶ هـ. ش مطابق ۱۹۵۷ میلادی ازدواج نمود و ثمره ازدواج شان دو پسر به نام های احمد فهیم حکیم و احمد راتب حکیم (متوفی سال ۲۰۲۲ میلادی) و دو دختر بنام های ملیحه حکیم و نیلاب حکیم می باشد.
۹- پدر مرحومم از تاشقرغان می باشد و همه خویشاوندان پدری ام در تاشقرغان سکونت دارند. همه تاجک تبار اند و به زبان دری/ فارسی صحبت میکنند. در تاشقرغان ازبک و ترکمن تباران نیز سکونت دارند و مردم محل قسماً به زبان ازبکی بلدیت دارند. شاید این تنوع قومی در تاشقرغان سبب شده باشد که ایشان را از جمع ازبک یا ترکمن تباران بشمارند. این قسمت معلومات شان درست ارائـه نشده است.
۱۰- پدر مرحومم در ۸ مارچ سال ۲۰۰۳ میلادی در شهر کابل به عمر ۷۷ سالگی کابل وفات نمود و در حضیره آبایی در شهدای صالحین در جوار مقبره خانم مرحومش (حمیده بیتاب متوفی سال ۱۹۸۸ میلادی) و مقبره خسر مرحوم شان استاد عبدالحق بیتاب (متوفی سال ۱۹۶۶) دفن گردید.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

معارف مدير سو. له ۱۹۴۶ – ۱۹۵۲ز کال پورې د اکاډېميکو چارو مرستيال مدير. په ۱۹۵۵ز کال کې د هلمند او ارغنداب ددرې د پراختيا او پرمختگ مدير. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د همدې اداري مرستيال رئيس. په ۱۹۶۶ز کال کې د ننگرهار د درې د پراختيا او پرمختگ سرپرست رئيس. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د همدې اداري رئيس. په ۱۹۶۹ز کال کې ر د اعتمادي په کابينې کې، د کرنې وزير او په ۱۹۷۱ز کال کې يو ځل بيا د کرنې وزير. په ۱۹۷۳ز کال کې د کونړ والي او د کونړ د پرمختيا د پروژې رئيس. د ستور لومړی درجه مډال ئـې اخيستی دئ. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری په ۲۷ نـېـټې د کرنې د وزارت سلا کار مقرر سو. د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د وزارت سرپرست مرستيال وزير. (د ملک الشعرا عبدالحق بيتاب) له لور مـېـرمن حميدې سره ئـې وادهٔ کړی دئ او څو ماشومان لري. په ښته تورکمن/ وزبيک دئ.

**عبدالحکيم شاه عالمي** : وگوری : شاه عالمي

**عبدالحليم**

ملاء، تاجيک. په کابل کې د احمديه (قاديانانو) د فرقې سيمه ييز مشر، ددې فرقې عمر ډېر لنډ وو. په ۱۹۲۰ز کال کې د کابل د ښار د سويل په څو مايلی کې په چارآسيا کې ئـې ژوند کاوهٔ. په ۱۹۲۵ز کال کې د قادياني په نوم اعدام سو.

## نور بيا

**حاجي عبدالحميد**

په ۱۸۸۲ز کال کې په کابل کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

---

نهايت سپاس از دقت شما در تصحيح معلومات دست داشته. مخلص دايمی تان فهيم حکيم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ